بسم الله الرحمن الرحیم

## نبي کریم صل الله علیه وسلم زمونږ لپاره ښوونکي او لارښود دی

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کي فرمایلي: **« فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ »ژباړه:« [اې پیغمبره (ص)!] دا د الله لوی رحمت دی چي ته ددې خلکو لپاره ډېر نرم خویه جوړ شوی یې »**او زه ګواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چي هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چي زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی فرمایي: یقینا زه ددي لپاره را لیږل شوی یم چي نیک اخلاق بشپړ کړم، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چي د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

پیغمبر صل الله علیه وسلم د ټول بشریت لپآره د ښووني او روزني په برخه کي یو ښه مثال دی نبي کریم صل الله علیه وسلم یو ښوونکي او رحم دله انسان وو او یو ښه روزونکی وو او هغه د نرمښت څخه کار اخیستلو او د خلکو سره یی نیکیانی کولي په ځانګړي توګه هغه صل الله علیه وسلم فرمایلي دي: الله جل جلاله زه ښوونکي او آسانه کوونکی رالیږلي یم، همدارنګه نبي کریم صل الله علیه وسلم په نورو احادیثو کي هم په همدي باندي ټینګار کړی دی.

څوک چي زمونږ د پیغمبر صل الله علیه وسلم په سیرت کي فکر وکړي نو وبه ګوري چي هغه د خپلو صحابه ؤ لپآره یو ښه ښوونکي وو او همدارنګه د ټول بشریت لپآره یو لارښود دی همدارنګه نبي کریم صل الله علیه وسلم په خلکو باندی ډیر رحم دله وو او به خلکو کي ډیر د نرم زړه خاوند وو او هغه چاته چي لارښونه او ادب به یی ښودلو نو په ډیر نرمي سره به یی وصیت کولو معاویه بن حکم رضي الله عنه وایی چي مونږ د نبي کریم صل الله علیه وسلم سره لمونځ ته ولاړ وو چي یو سړي پرینجی وکړ نو ما وویلي چي یرحمک الله نو خلکو ماته وکتل نو ما ورته وویل چي ولي ماته ګوری نو هغوي په شا ګانو باندی زه وټپولم خو ما د نبي کریم صل الله علیه وسلم په څیر باندي لارښوونکي او ښوونکي هیڅ ندی لیدلي زما د په الله قسم وي چي نه یی راته غصه وکړه او نه یی ووهلم نه یی راته بده خبره وکړه بلکي راته وی فرمایل چي دا لمونځ دی پدی کي باید د خلکو خبري ترسره نشي بلکي پدي کي باید تسبیح تکببیر ود الله جل جلاله لویی بیان شي او د قرانکریم لوستنه وشي.

د ابي عمامه رضي الله عنه څخه روایت دی وایی چي یو ځوان نبي کریم صل الله علیه وسلم ته راغي او وی ویل چي ای د الله رسوله ماته اجازه راکړه چي زنا وکړم نو ټولو خلکو ورته ولیدل او هغه یی ملامته کړاو ورته یی وویل چي دا څه وایی ته نبي کریم صل الله علیه وسلم وفرمایل رانژدی شه نوهغه رانژدی شو او ورته یی وویل آیا ته غواړي چي داسی یو څوک د ستا په مور باندي وکړي هغه وویل چي زما د په الله قسم وي چي نه زما د به تا باندي ځان قربان وی نبي کریم صل الله علیه وسلم ورته وفرمایل: همداسی خلک هم د خپلو مورګانو

لپآره دا نه  غواړي بیا ورته وفرمایل آیا ته غواړی چې ستا لور لپاره داسی یو کار ترسره شي هغه وویل زما د په الله قسم وي چې زه دا نه غواړم نو نبي کریم صل الله علیه ورته وفرمایل چې خلک هم د خپلو لورګانو لپاره داسی نه غواړي بیا ورته یی وفرمایل چې ایا ته غواړي ستا د خور سره داسی یو څوک وکړي؟ هغه وویل چې زما د په الله قسم وی او الله د ماد تا قربان کړي نو پیغمبر صل الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې خلک هم د خپلو خورګانو لپآره دا نه غواړي بیا یی ورته وفرمایل: ایا ته غواړی چې ستا د ترور سره داسی یو څوک وکړي؟هغه ورته وویل چې زما د په الله قسم وي چې داسی زه نه غواړم نوبیا یی ورته وفرمایل چې خلک هم نه غواړی چې خپلو خاله ګانو او ترور ګانو سره داسی کار ترسره شي بیا یی په هغه باندي یی لاس کیښوده او دغه دعاء یی وکړه چې اې الله دده ګناهونه معاف کړي او د هغه زړه پاک کړي او ددغه ډول کارونو څخه وساتي همدا وو چې هغه ځوان وروسته له هغه څخه بیا هیڅ شي ته ونه لیدل.

****

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

که یو څوک زمونږ د پیغمبر صل الله علیه وسلم په ژوند کې فکر وکړی نو وبه ګوري چې هغه د دعوت اولارښووني لپآره بیلابیلي لاري غوره کړی وی همدارنګه د خلکو سره د اړیکو نیولو لپآره د بیلابیلو مهارتونو څخه ګټه پورته کړي وه ترڅو د عقل څخه کار واخلي او د خلکو په زړونه کې ځای واخلي نبي کریم صل الله علیه وسلم کله به د ذهنیت د ویختیا لپاره په بیلابیلو احکامو څخه کار اخیستلو لکه چې نبي کریم صل الله  علیه وسلم پدغه حدیث کې فرمایلي دي دري هغه په چا کې دغه شیان پیدا شي نو هغه د ایمان خوند څکلي شي لومړئ دا چې الله جل جلاله او د هغه رسول هغه ته د نورو شیانو څخه ډیر خوښ وي او د خلکو سره یوازي د الله جل جلاله لپآره مینه وکړی او دا بده وګڼي چې بیرته کفر ته وګرځي دا وروسته له هغه چې الله جل جلاله د کفر څخه ژغورلي وي او دا داسی ګڼي لکه څنګه چې یو څوک په اور کې واچوي.

کله کله به نبي کریم صل الله علیه وسلم د زیات وضاحت لپاره به مثالونه وړاندي کول لکه چې نبي کریم صل الله علیه وسلم فرمایلي دي چې د نیکو خلکو سره ناسته او د بدو خلکو سره ناسته داسی ده لکه چې یو څوک مسک له ځان سره ولري نوهغه خه بوي ورکوي او د بدو خلکو سره ناسته داسی ده چې یو څوک ځان سره داسی شی ولیږدوي چې هغه بد بوي کوي.

کله به نبي کریم صل الله علیه وسلم د پوښتنو ډول باندی مسایل مطرح کول ترڅو هغه څوک تشویقکړي چې چا ته به یی دغه مثالونه وړاندی کول او د هغه فکر ځانته راواړوي لکه چې نبي کریم صل الله علیه وسلم فرمایلي دي آیا تاسي پوهیږي چې مفلس څوک دی؟ هغوي وویل

مفلس هغه څوک دی چې پیسی ونلري نبي کریم صل الله علیه وسلم وفرمایل مفلس زما د امتیانو هغه څوک دی چې د قیامتپه ورځ به راځي لمونځونه زکات او روژی به یی نیولي یی خو ددی ترڅنګ د خلکو سره یی بد چلند کړی وي او د خلکو مالونه یی خوړلي وي د خلکو ویني یی تویی کړی وي نو همدا ده چې د هغه نیکي به د هغه بدیو سره لمنځه ځي نو په آخره کې به په اور کې غورځول کیږي.

همدارنګه نبي کریم صل الله لیه وسلم بیلابیلي ورځي او مناسب وختونه د ښووني اوروزني لپآره ځانګړي کړي وو ترڅو د خلکو ذهنونه فعاله وساتي او د هغوي څخه سترتیا لري کړي لکه څرنګه چې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه پدی هکله بیلابیل حدیثونه رانقل کړي دي.

مونږ ډیر زیات دیته اړتیا لرو چې د خپل نبي کریم صل الله علیه وسلم د اخلاقو تابعداري وکړو او همدارنګه د هغه ښووه او روزنه په نظر کې ونیسو چې په څه ډول باندي خپل رسالت یی خلکو ته رسولي دی.

**الله د مونږ ته علم او ادب مونږ ته نصیب کړي او د نبي کریم صل الله علیه وسلم اخلاق په مونږ کې راولي.**